یــوناــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندويه پلاوي دفتر
دستراتيژيکو اړيکو دفتر
مطبوعاتي بيانيه
www.unamanews.org/pashto

**يوناما پر يوه کلي د توغندي دلګيدو له کبله د ملکي وګړو وژنه غندي**

**کابل، د ۲۰۱۵ کال د دسمبر ۶مه –** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (یوناما) د وردګو ولایت په شاهي خیلو کلي د توغندي د لګیدوله کبله د وروستیو نهو ملکي وګړو وژنه غندي.

لومړنی معلومات ښيي، چې دغه تلفات د افغان پوځ لخوا د فیر شوي توغندي له کبله رامنځ ته شویدي. د دسمبر د۴ مې نیټې په پیښه کې د نهو وژل شویو له ډلې يې څلور ماشومان دي . په دغه پیښه کې درې تنه نورد شاهي خیلو د کلي یوه جومات ته نژدې ټپیان شویدي.

یوناما د ولسمشرغني لخوا ددغې پیښې د څیړنې لپاره د یوه پلاوي د ټاکلو په اړه معلومات لري او پر حکومت ټینګار کوي، چې د خپلواکې، بې پرې او رڼو پلټنو تر سره کیدل ډاډمن کړي اوددغې پیښې له مسولو کسانو سره قانونی چلند وکړي. یوناما همدارنګه له حکومته غواړي ، چې د پیښې قربانیانواو د هغوی کورنیوته مناسب تاوان ورکړي اود هغوی ملاتړ وکړي.

د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی یو ځل بیا دحکومت پلوو ځواکونوپه ګډون د جګړې په ټولوښکیلوغاړوغږ کوي، چې د ملکي خلکو د اوسیدو سیمو ته د توغندیوله وارولو ډډه وکړي او پر حکومت ټینګار کوي، چې د ملکي وګړو د تلفاتو د کمولولپاره د یوې ملي تګلارې رامنځ ته کولو او تصویب ته لومړیتوب ورکړي ، او د یوه داسې عملي پلان پربنسټ یې ملاتړ وشي، چې دجګړو پرمهال د ملکي تلفاتومخنیوی وکړي.

د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی د قربانیانو له کورنیوسره خپله ژوره خواشیني څرګندوي او ټپیانو ته عاجله روغتیا غواړي.

***

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
For more information, please contact: Spokesperson-UNAMA@un.org
UNAMA online: http://unama.unmissions.org • Facebook • Twitter • Flickr • YouTube